Permanent Mission of Afghanistan to the United Nations

# د محترم نصير احمد فايق وينا

## په ملګرو ملتونو کې د افغانستان دايمي استازولۍ سرپرست

## د افغانستان د وضعيت په اړه د ملګرو ملتونو د امنيت شورا غونډه

## ۱۶ سپتمبر ۲۰۲۶

**ښاغلی رئيس،**

د رواني مياشتې لپاره د امنيت شورا د رياست د مسؤليت د ترلاسه کولو له امله تاسو ته مبارکي وايم او د دې غونډې د رابللو له امله مننه کوم.

همدارنګه، له فرانسې او د ښځو، سولې او امنيت د ملاتړ له نورو لاسليک کوونکو څخه د نن سهار د هغې قوي اعلاميې له امله مننه کوو چې د افغانستان له ښځو او نجونو سره د پيوستون په موخه خپره شوه. همدارنګه د تېرې مياشتې په اوږدو کې د ډنمارک د رياست پر مهال، د طالبانو د نامشروع واکمنۍ د پنځمې کليزې په مناسبت او د افغانستان د خلکو په ملاتړ د خپرې شوې اعلاميې قدرداني کوو.

له مېرمن ژورژت ګانيون، د سرمنشي د ځانګړي استازي مرستيالې، څخه د هغې د راپور له امله او له يوناما څخه په سختو شرايطو کې د خپلو فعاليتونو د دوام له امله مننه کوم. همدارنګه له مېرمن نرګس نهان، د «فراګير» استازې، څخه د هغې د ليدلورو له امله مننه کوم. د مېرمن رباب فاطمه د سرمنشي د ځانګړې استازې په توګه ټاکل کېدل هم په تودو احساساتو مبارکي وايو.

په داسې حال کې چې موږ تازه د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر د ۱۱مې د تروريستي بريدونو پنځه ويشتمه کليزه تېره کړې، د ټولو هغو کسانو ياد ته درناوی کوو چې خپل قيمتي ژوند يې له لاسه ورکړ، او همدارنګه د هغو افغانانو او نړيوالو شريکانو درناوی کوو چې د تروريزم پر ضد مبارزه کې يې ستره قرباني ورکړه.

تېره مياشت پنځه کاله هم پوره شول له هغه وخت راهيسې چې طالبانو د زور له لارې واک ترلاسه کړ — دومره موده چې اوس بايد وضعيت د عمل او پايلو پر بنسټ و ارزول شي، نه د ژمنو پر اساس.

سره له دې چې ملګرو ملتونو او نړيوالې ټولنې دوامداره تعامل کړی، د افغانستان بشري، د بشري حقونو، سياسي او امنيتي بحرانونه لا هم ژوربږي.

امنيت شورا مهم ګامونه پورته کړي دي.

۲۶۱۵ (**پرېکړه‌ليک** ۲۰۲۱) بشري معافيت رامنځته کړ؛ ۲۶۷۹ (**پرېکړه‌ليک** ۲۰۲۳) د نړيوالې ټولنې لپاره د يوه لا همغږي شوي چلند په موخه خپلواکه ارزونه مأموره کړه؛ او ۲۷۲۱ (**پرېکړه‌ليک** ۲۰۲۳) د ملګرو ملتونو د ځانګړي استازي د ټاکلو غوښتنه وکړه څو د خپلواکې ارزونې سپارښتنې، د يوه سياسي بهير په ګډون، پرمخ يوسي.

خو له دې ټولو سره سره، طالبانو د افغانستان د خلکو مشروع غوښتنې او د نړيوالې ټولنې پرله‌پسې غوښتنې له پامه غورځولې دي.

په ټول هېواد کې پراخه وسله‌واله جګړه کمه شوې، خو د لویې جګړې نشتوالی باید له دوامدارې سولې سره برابر ونه ګڼل شي. د افغانستان په بېلابېلو برخو، په ځانګړې توګه په شمالي او شمال ختیځو ولایتونو، د بدخشان په ګډون، وسله‌وال مخالفت ورځ تر بلې زیات ښکاره کېږي.

دا هم مهمه ده یادونه وشي چې د افغانستان اوسنیو وسله‌والو مخالفو ډلو، د طالبانو خلاف، عموماً د ملکي وګړو پر ضد ځانمرګي بریدونه او یا بې‌توپیره چاودېدونکي توکي نه دي کارولي.

د سرمنشي راپور په څرګنده ښيي چې د ظاهري ثبات تر شا جدي خطرونه لا هم مخ په زیاتېدو دي.

**ښاغلی رئیس،**

پنځه موضوعګانې ځانګړې پاملرنې ته اړتیا لري.

**لومړی، افغانستان د سیاسي مشروعیت او حکومتولۍ له ژور بحران سره مخ دی.**

د طالبانو له واکمنېدو پنځه کاله وروسته، لا هم نه ټولشموله سیاسي نظام شته، نه منل شوی اساسي قانون او نه هم داسې حساب‌ورکوونکي بنسټونه چې د افغانستان خلک د هغو له لارې د خپل ژوند اړوندو پرېکړو باندې اغېز ولري.

سیاسي ګوندونه لا هم منع دي، سیاسي شخصیتونه له محدودیتونو سره مخ دي، د کورني بند په ګډون، او مانادار‌ه سیاسي خبرې اترې لا هم رد کېږي.

واک په شدیده توګه متمرکز پاتې دی. حتی هغه څېرې چې د طالبانو په دننه کې «معتدلې» یا ناخوښه بلل کېږي، په کابل کې نه دي توانېدلي او یا یې نه دي غوښتلي چې د طالبانو د مشرتابه له لوري تحمیل شوې تګلارې په مانادار‌ه توګه وننګوي.

**د خاورې کنټرول د سیاسي مشروعیت معنا نه لري.**

مشروعیت د زور، تبعیض او حذف پر بنسټ نه شي جوړېدای.

همدارنګه، د حکومتولۍ د ښه کېدو ادعاوې باید په داسې حال کې د رشوت، باج اخیستنې، د واک د ناوړه ګټې اخیستنې او په بشري مرستو کې د لاسوهنې معتبر راپورونه پټ نه کړي چې خپلواکه څارنه نشته.

**دویم، د ښځو او نجونو سیستماتیک حذف د طالبانو د ژمنو د ماتولو او زموږ د ګډې ناکامۍ تر ټولو څرګنده نښه ده.**

یونسکو اټکل کوي چې په افغانستان کې **۲.۴ میلیونه نجونې لا هم له منځنۍ زده کړې محرومې دي.**

افغانستان د نړۍ یوازینی هېواد دی چې ښځې او نجونې پکې په رسمي ډول له ابتدایي زده کړو پورته له تعلیم څخه منع شوې دي.

ښځې لا هم د کار، تګ راتګ او عامه ژوند کې د ګډون په برخه کې له سختو محدودیتونو سره مخ دي. په ملګرو ملتونو کې افغان ښځینه کارکوونکي لا هم د ملګرو ملتونو ودانیو ته له ننوتلو منع دي، او د بشري مرستو پر ښځینه کارکوونکو محدودیتونه د مرستو رسولو بهیر کمزوری کوي.

طالبانو همدارنګه دیني مدرسې د رسمي زده کړو د بدیل په توګه پراخې کړې دي، چې دې چارې د خلکو ترمنځ د افراطیت په اړه اندېښنې زیاتې کړې دي.

دا یوازې د ښځو د حقونو بحران نه دی؛ بلکې یو ملي بحران دی چې د افغانستان پر اقتصاد، روغتیا، زده کړو، پراختیا او اوږدمهاله ثبات اغېز کوي.

هیڅ سیاسي بهیر هغه مهال د مشروعیت ادعا نه شي کولای چې ښځې د خپل هېواد د راتلونکي په اړه له پرېکړو څخه ایستل شوې وي.

له ټولو غړو هېوادونو، په ځانګړې توګه د اسلامي نړۍ له هېوادونو، غواړو چې روښانه او متحد دریځ ولري: د افغانستان د ښځو او نجونو د اساسي حقونو محرومول د دین، دود او کلتور په نوم نه شي توجیه کېدای، لکه څنګه چې طالبان د دې هڅه کوي.

**تعامل باید هېڅکله د بنسټیز شوي تبعیض د منلو معنا ونه لري.**

**درېیم، د بشري حقونو پراخ وضعیت لا هم ژوره اندېښنه رامنځته کوي.**

یوازې د مې او جولای ترمنځ، یوناما د پخوانیو چارواکو او پخوانیو امنیتي ځواکونو پر ضد، سره له دې چې عمومي عفوه اعلان شوې، **۱۲ وژنې، ۱۳ خپلسري نیونې او توقیفونه، او د شکنجې یا ناوړه چلند درې قضیې** ثبت کړې دي.

خبریالان لا هم نیول کېږي، رسنۍ ځنډول کېږي یا سانسورېږي، بدني سزاوې تطبیقېږي او مدني فضا په شدیده توګه محدوده پاتې ده.

موږ همدارنګه د هزاره او شیعه ټولنو پر وړاندې د زیاتېدونکي فشار له امله ژوره اندېښنه لرو، چې پکې د مذهبي او ټولنیزو شخصیتونو نیول، په مذهبي مراسمو کې لاسوهنه، تبعیض او د ځمکو او ملکیتونو غصب شامل دي.

د هدفي وژنو او غچ اخیستونکو اقداماتو راپورونه هم دوام لري. په وروستیو ورځو کې راپور ورکړل شوی چې یو پخوانی قاضي په کابل کې په ډزو وژل شوی؛ دوه پخواني امنیتي کسان په تخار کې شکنجه او سرونه یې پرې شوي؛ او په کابل، ارزګان او هرات کې هم د نورو وژنو راپورونه ورکړل شوي دي.

هره یوه له دغو قضیو څخه معتبرې او خپلواکې څېړنې ته اړتیا لري.

**طالبان نه شي کولای په داډ سره د امنیت د تأمین ادعا وکړي، په داسې حال کې چې خلک پرته له حساب ورکولو وژل کېږي، نیول کېږي، شکنجه کېږي او یا نادرکه کېږي.**

**څلورم، تروریزم لا هم د افغانستان، سیمې او نړۍ لپاره جدي ګواښ دی.**

د ملګرو ملتونو سرمنشي په خپل راپور کې د افغانستان له خاورې د تروریستي ډلو د دوامداره فعالیت په اړه اندېښنه څرګنده کړې، او د امنیت شورا د بندیزونو د څار ټیم د شلو څخه د زیاتو تروریستي ډلو د حضور راپور ورکړی دی.

له همدې امله، د طالبانو دا ډاډ چې د افغانستان خاوره به د نورو هېوادونو پر ضد نه کارول کېږي، باید یوازې په خبرو نه، بلکې د **اندازه کېدونکو او د تصدیق وړ اقداماتو** پر بنسټ وارزول شي.

افغانستان باید بیا هېڅکله د نړیوال تروریزم په خوندي پټنځای، د جلب او جذب په مرکز او یا په عملیاتي اډه بدل نه شي.

په ورته وخت کې، د تروریزم پر ضد مشروع اندېښنې نشي کولای هغه پوځي اقدامات توجیه کړي چې د افغانستان د ملکي وګړو ژوند اخلي او یا د افغانستان ځمکنۍ بشپړتیا نقضوي.

دا ډول اندېښنې یوازې د مشروع، حساب‌ورکوونکي او اغېزمن حکومت له لارې په دوامدار ډول حل کېدای شي.

**افغانستان باید د نورو د امنیتي شخړو د جګړې په ډګر بدل نه شي.**

**پنځم، بشري او اقتصادي بحران لا هم شدید دی.**

درې ویشت میلیونه کسان بشري مرستو ته اړتیا لري او **۱۳.۸ میلیونه کسان له شدیدې غذایي ناامنۍ سره مخ دي،** په داسې حال کې چې د ۲۰۲۶ کال د بشري ځواب پلان یوازې شاوخوا **۳۰ سلنه** تمویل شوی دی.

د روان کال د جنورۍ او اګست ترمنځ نږدې **۱.۱۵ میلیونه افغانان** بېرته ستانه شوي، چې ډېری یې په ناخواسته توګه بېرته ستانه شوي دي. دا په داسې حال کې ده چې په ۲۰۲۵ کال کې هم شاوخوا **۲.۹ میلیونه کسان** هغو ټولنو ته بېرته ستانه شوي وو چې له بېکارۍ، غذایي ناامنۍ او کمزورو خدماتو سره مخ دي.

له ټولو هېوادونو غواړو چې د **جبري نه ستنولو اصل** رعایت کړي. ستنېدل باید داوطلبانه، خوندي او باعزته وي او له هغو بنځو، د بشري حقونو مدافعینو، خبریالانو، پخوانیو چارواکو او پخوانیو امنیتي ځواکونو څخه باید ځانګړې ساتنه وشي چې له خطر سره مخ دي.

همدارنګه له مرسته کوونکو غواړو:

**د هغو کسانو د سیاستونو له امله چې پر افغانستان واکمن دي، د افغانستان خلک مه پرېږدئ.**

بشري مرستې باید دوام وکړي، خو دا مرستې نشي کولای د تل لپاره د فعال اقتصاد، مشروعو بنسټونو او مسؤل حکومتولۍ ځای ونیسي.

**ښاغلی رئیس،**

د تېرو پنځو کلونو تجربه د نړیوالو تګلارو د صادقانه ارزونې غوښتنه هم کوي.

یوازې انزوا بدلون نه دی راوستی. له روښانه سیاسي موخو پرته تعامل هم نتیجه نه ده ورکړې.

**د انزوا او عاديسازۍ ترمنځ دا ناسمه دوهلارې باید پای ته ورسېږي.**

هغه څه چې اړتیا ورته ده، **اصولي، همغږی او پایلهمحور تعامل له روښانه سیاسي هدف سره** دی: د یوه ریښتیني بینالافغاني سیاسي بهیر له لارې مشروع، استازولی کوونکی او حسابورکوونکی حکومت.

امنیت شورا ځو ځله له داسې یوه چلند څخه ملاتړ کړی دی. موږ باور لرو چې اوس د خپلواکې ارزونې د سپارښتنو د عملي کولو وخت رارسېدلی، د ملګرو ملتونو د ځانګړي استازي د ټاکلو په ګډون، او هیله لرو چې روانه ستراتیژیکه بیاکتنه به د یوناما سیاسي رول پیاوړی کړي.

خو هېڅ دوامداره پایله یوازې د طالبانو او بهرنیو حکومتونو ترمنځ له تعامل څخه نه شي ترلاسه کېدای.

**افغانستان تر طالبانو ډېر پراخ دی.**

له همدې امله، موږ یو ځل بیا د یوه ریښتیني سیاسي بهیر غوښتنه کوو چې **د افغانانو په مشرۍ او مالکیت** وي، ملګري ملتونه یې اسانتیاوې برابرې کړي او سیمهییز او نړیوال شریکان یې ملاتړ وکړي؛ داسې بهیر چې افغان ښځې، مدني ټولنه، سیاسي او دموکراتیک ځواکونه، ځوانان، قومي او مذهبي ټولنې او نور معتبر افغان اړخونه پکې په مانادار توګه شامل وي.

**د افغانستان خلک باید د خپل راتلونکي په اړه په پرېکړو کې ګډونوال وي، نه نندارچیان.**

تېره میاشت، زموږ استازولۍ له افغانستان دننه او بهر له افغانانو سره داوطلبانه او بېنومه مشورې ترسره کړې.

د افغانستان دننه د ځواب ویونکو له ډلې:

**۸۶ سلنه** وویل چې د دوی او د دوی د کورنیو ژوند په تېرو پنځو کلونو کې خراب شوی؛

**۷۶ سلنه** مشروع، ټولشموله او حسابورکوونکي حکومتولي لومړیتوب وباله؛

**۷۱ سلنه** د یوه ټولشموله سیاسي بهیر لپاره د ملګرو ملتونو د ملاتړ غوښتنه وکړه؛

او نږدې دوه پر دریمه برخه د ملي خبرو اترو په بهیر کې د افغانانو پر مانادار ګډون ټینګار وکړ.

د هغوی پیغام روښانه دی:

د افغانستان خلک حقونه، استازیتوب، حسابورکوونکي بنسټونه، زده کړه او فرصتونه غواړي — او تر ټولو مهمه دا چې غواړي د خپل هېواد د حکومتولۍ د څرنګوالي په ټاکلو کې مانادار ونډه ولري.

**ښاغلی رئیس،**

موږ د یوناما د ماموریت له تمدید څخه هرکلی کوو او د ستراتیژیکي بیاکتنې پایلو ته منتظر یو.

د یوناما بشري او د بشري حقونو رولونه مهم دي، خو **سیاسي رول یې هم په هماغه اندازه ضروري دی.**

یوناما باید د یوه سیاسي حل لپاره د شرایطو په برابرولو کې مرسته وکړي.

له همدې امله، له امنیت شورا او نړیوالې ټولنې غواړم چې پنځه لومړیتوبونه په پام کې ونیسي:

**یو همغږی نړیوال دریځ؛**
**د ښځو او نجونو د حقونو او مانادراه ګډون ملاتړ؛**
**د افغانانو په مشرۍ د یوه ریښتیني سیاسي بهیر ملاتړ؛**
**تروریزم، بشري حقونو او حساب ورکولو ته دوامداره پاملرنه؛**
**او د بشري مرستو دوام او له زیان‌منونکو افغانانو څخه ملاتړ.**

افغانستان باید په یوه نامعلوم او بې‌پایه حالت کې پرېښودل شي؛ نه یوازې د هغه څه له امله چې د افغانستان د خلکو لپاره په خطر کې دي، بلکې د نړیوالې سولې او امنیت لپاره د دې وضعیت د پایلو له امله هم.

د افغانستان خلک له نړیوالې ټولنې نه غواړي چې د دوی مشران ورته وټاکي.

**هغوی د خپل راتلونکي د ټاکلو حق غواړي.**

مننه، ښاغلی رئیس.